ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**محمد ساجد**

ایم فل ریسرچ اسکالر، شعبہ پشتو، سوات یونیورسٹی

**ثناء گل**

ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

**رضوان اللہ خان**

ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پاکستانی زبانیں، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی

# پہ پښتو ټپه کښې سلبي او ايجابي اقدار

**Muhammad Sajid**
MPhil Research Scholar, Pashto department University of Swat.
**Sana Gul**
MPhil Research Scholar, Pashto Department, AWKUM Mardan.
**Rizwan Ullah Khan**
MPhil Research Scholar, AIOU, Isamabad.

# Nagative and positive Values in Pashto Tapa

**ABSTRACT:**
"Tapa" is fundamental in Pashto genres. Thematically, this genre has a lot to offer. Apart from other topics, negative and positive values are also mentioned in this genre. Negative values refer to those elements which lead man and human life towards failure and positive values are those which lead man and life towards success. This research paper examines the negative and positive values in Pashto "Tapa".

**KEY WORDS**: *Pashto Tapa, negative and positive values, Pashto literature, Pashtun Values.*

د پښتو په اولسي اصنافو کښې ټپه يو داسې انفرادي صنف دے، چې په خاص او عام کښې يو شان مقبوليت لري۔ او په اولسي اصنافو کښې تر ټولو لرغونے صنف هم ګڼلے کيږي۔ ټپه د مصرۍ او لنډۍ په نومونو هم پيژندلے شي۔ په فني لحاظ سره د ټپې دوه مصرعې وي چې وړومبۍ مصرعه ئې نهه سپلابه او دوېمه مصرعه ئې ديارلس سپلابه وي۔

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39
ماخذ تحقیقی مجلہ

د یو روایت مطابق ټپه څلور زره کاله تاریخ لري۔ د ټپې په څېر بل داسې صنف په ادبیاتو کښې نشته۔ ځینې خلق ئې د پنجابۍ په یو صنف "ماهیا" پسې تړي ولې ټپه او ماهیا د یو بل نه ډېر توپیر لري۔ ټپه چې څومره خوږه ده، دغه خواږه په "ماهیا" کښې نشته۔ بله د ټپې دواړه مصرعې خپلو کښې تړلې وي ولې د ماهیه مصرعې داسې نهٔ وي۔ اغلې ډاکټر سلمیٰ شاهین وائي:

"لنډۍ د پښتو ژبې هغه منفرد صنف دے چې مثال ئې په بله یوه ژبه کښې هم چرته نشته۔ د پنجاب ماهیا د تحقیق له رویه تر ډېره د لنډۍ سره سمون خوري ځکه چې دا دواړه په یوه نیمه مصرعه پوره شي۔ د دواړو اصنافو بحر یو وي په دواړو کښې د مینې اظهار د صنف نازک له رویه کېږي۔ د دواړو موضوع بنیادي توګه یوه وي او دواړه صنفونه په خپلو عوامو کښې ډېر مقبول دي۔ د دواړو د وېنا طرز هم یو دے۔ خو بیا هم د دواړو څه خبرې جدا دي"۔[۱]

هم دا لیکواله وړاندې د لنډۍ او ماهیا د توپیر په ضمن کښې لیکي چې:

"په پښتو لنډۍ کښې همېشه یوه قافیه چلېږي چې د دې سره مختص شوي ده۔ خو په ماهیا کښې د قافیې هېڅ قېد نشته۔ دوېم د لنډۍ په یو نیمه مصرعه کښې د وړومبۍ نیمګړې مصرعې د دوېمې پوره مصرعې سره مکمل تړون وي او په ماهیا کښې په عمومي توګه د وړومبۍ نیمګړې مصرعې د دوېمې پوره سره هېڅ تعلق نهٔ وي"۔[۲]

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39
ماخذ تحقیقی مجلہ

د ټپې د فني چوکاټ په حقله احمد شاه زغم ليکي:

"لنډۍ د پښتو د اولسي سندرو يو ستره او مهمه برخه ده. چې يو مخصوص جوړښت لري. د غير مقفي او عروضي شعر دے. چې لومړۍ مصرعه نهمه او دوېمه مصرعه ئې ديارلس سېلابه وي."[3]

ټپه عموماً په "نه" يا "مه" باندې ختمېږي او لکه د نظم په خپل ځان کښې پوره مضمون لري.[4] ځينې ټپې داسې هم وي چې هغهٔ د "نه" او "مه" په ځاے په نورو ټکو سره ختميږي. ولې دغه ټپې دومره ډېرې نهٔ وي.

په ټپه کښې د انساني ژوند او رواياتو عکاسي ډېره په ښکلي شکل سره شوي وي. او د هرې طبقې د خلقو دپاره په کښې بحث مباحثه وي. داسې نهٔ وي چې ګنې د يوې خاصې ټولنې يا طبقې سره اړوند خبرې لري. او د ټپې د مقبوليت يو راز هم دغه دے.

په موضوعي ډول د پښتو ټپې په لمن کښې هغهٔ څه راټول دي، چې احاطه ئې په بل کوم يو صنف کښې نهٔ ليدے شي او نهٔ امکان لري. د مکان نه د لامکان، د بقاء نه راواخله تر ارتقاء او اختتام پورې موضوعات ټپه په ځان کښې ډېر په هنري انداز رانغاړي. ژوند د دوه قسمه توکو د امتزاج نامه ده چې ورته سلبي او ايجابي وئيلے شي. انسان چې د کله نه د زمکې په مخ قدم اېښودے دے نو د دغه دواړو توکو يا قدرونو سره مخ ژوند کوي. ايجابي اقدار د هغه اړخونو، توکو او عناصرو مجموعه ده چې د ژوند لارۍ روانه ساتي او انسان د ګوتې نه نيولے خپل مرام پله بيائي، د انسان شناخت د ځناور نه بېلوي او انسان د انسانيت اصلي معراج ته رسوي. او سلبي اقدار هغه دي کوم چې د دغه مثبت اړخونو پرضد زمونږ په زړونو، ذهنونو ، خيالاتو او تصوراتو طاري کيږي. په

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

نورو لفظونو کښې مونږ داسې وئيلے شو چې ايجابي اقدار يو قسم له د ژوند د مثبت اړخونو مجموعه ده او په سلبي اقدارو کښې هغه اړخونه راتلے شي، چې د منفي توکو په زمره کښې راځي او په ټولنه يا چاپېرچل کښې غندلے شي۔ غندنه عموماً د هغه څيزونو، دستورونو، رسمونو او خويونو کيږي کوم چې انسان د ناکامۍ ګړنګ ته اچوي۔ او د انسان شناخت د اصلي انسان په شکل کښې نۀ کوي۔ د سلبي او ايجابي اقدارو په حقله د پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک وينا څه داسې ډول ده:

" ژوند د دوه قسمه قدرونو نه عبارت دے۔ يو ايجابي او بل سلبي۔ ايجابي قدرونه په عالمګيره پېمانه د خبر عام کول غواړي او سلبي قدرونه د دې مخ نيوے کوي۔ ايجابي قدرونه ژوند ته د امېد په پرونو الوت ښئ او سلبي قدرونه ئې په شا راکاږي۔ ايجابي قدرونه انسان د سړي توب اعلیٰ معيار ته رسوي او سلبي قدرونه بنده د مايوسۍ کندې ته ولي۔ غرض دا چې که په ژوند کښې د ايجابي قدرونو تله درنه وي نو ژوند ښکلے، پرکشش او د نعمتونو نه ډک وي او که په يوه معاشره کښې د سلبي قدرونو پربواني وي نو بيا ژوند، ژوند نۀ شي پاتې کېدے بلکې يو مسلسل مرګ او دائمي عذاب وي۔ "[۵]

لکه چې ما وړاندې اووې چې په پښتو ټپه کښې د ژوند د هر يو اړخ عکاسي او ترجماني شوې ده هم دغه شان په کښې د سلبي او ايجابي اقدارو په حقله هم ډېر څه موجود دي۔ ايجابي او سلبي اقدار چونکې زمونږه د ژوند سره لنډې اړيکې لري او چې کوم څيزونه زمونږه د ژوند سره ډېر تړلي وي نو په ادب کښې ئې ارو مرو نخښې برېښي۔ د پښتو ټپې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

غښړه د سلبي او ايجابي اقدارو نه ډېر معموره ده ـ تر ټولو اول به زۀ د سلبي اقدارو پلټنه مخې ته راوړم۔

سلبي اقدار خو ډېر زيات دي، ولې په دغه سلبي اقدارو کښې يو قدر د نصيب نه ګيله هم شامل دے ـ د نصيب نه ګيله عموماً د د نا امېدۍ علامات دي او انساني ذهن او انساني ژوند د ترقۍ او پرمختيا په ځاے د زوال، پستۍ او ناکامۍ په لور بيائي ـ کوم خلق چې په ژوند د ځينو ناوړه او کنډو کپرو حالاتو سره مخ شي نو په دغه موقع دوي د خپل تقدير ، نصيب او بخت نه په ګيلو شروع وکړي ـ که يو پله ئې دغه فکر او نظر سره اتفاق ممکن وي ولې بل پله دا هم جوته ده چې ژوند کښې خو سختې او ازمېښتونه ارو مرو راځي ـ د نصيب نه ګيله د زنانۀ په ژبه هم کېدے شي او د نارينو په ژبه هم ـ د نورو ډېرو ټپو نه علاوه ئې دا ټپې مونږ ته څرګ راکوي:

"ابۍ دادا ته ګناه نشته
چا په ليتکو کتلي نۀ دي نصيبونه"[٦]
"باران د سرو ګلو وريږي
زۀ کم نصيبه جولۍ تشه ګرځوومه"[٧]
"باران د سرو ګلو وريږي
زۀ کم نصيبه ترېنه تشه جولۍ وړمه"[٨]

د سلبي اقدارو په ضمن کښې راتلونکے يو بل توکے بې وفائي ده ـ کله چې څوک په وعده کښې پاتې راشي، خپل لوظونه په ځاے نۀ کړي نو بې وفا ګڼلے شي ـ دغه بې وفائي د مختلفو موقعو په نسبت سره په مختلفو شکلونو کښې کېدے شي ـ او په ټولنه کښې ښۀ نۀ شي ګڼلے

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39
ماخذ تحقیقی مجلہ

کېږي۔ په پښتو ټپه کښې د يوې جونې له خلې د خپل اشنا د بې وفايۍ ذکر څۀ داسې ليدے شي۔

"اشنا به هله وفا وکړي
چې د مرګي په لاره واخلي قدمونه"[۹]

د ابتداء نه انسانانو د خپل ژوند يو خاص معيار او طور طريقې ټاکلې وي۔ د وخت سره د مختلفو خدايانو عبادت کول هم څۀ ناشنا خبره نۀ ده۔ په دغه حقله هم بيا د مختلفو خلقو خپل خپل خيالات او تصورات دي۔ مسلمانان چې چرته اباد دي نو دوي د اسلام په دائره کښې داخل دي او د اسلام هر يو امر د ځان دپاره لازم ملزوم ګڼي۔ او په يو ځاے کښې هم دا نۀ غواړي چې د اسلام بندونه مات کړي۔ د نور عبادت نه علاوه کوشش کوي چې د روژو هم پوره پوره اهتمام وکړي۔ او چې څوک د روژو خوړلو هڅه کوي نو پښتو ټپه کښې ورته دا خبره په ډانګ پيټلي کيږي چې:

"اور د دوزخ ورله لازم دے
چا چې په قصد حقې روژې خوړلې وينه"[۱۰]

زمونږه د يو بل سره د رويو په بدل کښې دوه عناصر وجود مومي چې يو ته دعا او بل ته بد دعائي يا ښيرې وائي۔ دعا زمونږ سره په ايجابي اقدارو کښې راتلے شي او ښيرې په سلبي کښې۔ د دغه دواړو عناصرو ذکر په پښتو ټپه کښې ډېر زيات شوے دے۔ د ښيرو د ذکر په حقله دا يوه ټپه د بېلګې په طور چې:

"اوس مازيګر دے ښيرې مۀ کړه
ته به د ناز ښيرې کوي رښتيا به شينه"[۱۱]

پښتون د تورې او مېړانې په حقله يادېږي او په تاريخ کښې ئې د تورې او مېړانې ډېر واقعات او کارنامې رقم دي۔ په دې وجه په هيڅ يو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

حال کښې بې غیرتي، دووسي او دغه رقم کردارونه او کارونه نهٔ خوښوي. نهٔ یواځې دا د یو پښتون نارینه مزاج وي بلکې زنانه هم په دغه لړ کښې د دغه فکر پلویانې وي. "موزیګے" هم په ټولنه او چاپېرچل کښې یو ډېر ناوړه فرد وي. او په ټولنه کښې ورته په درنه سترګه نهٔ شي کتلے. عموماً دله دؤس دپاره دغه لفظ استعمالیږي. په پښتو ټپه کښې د دغه پرېوتي فرد غندنه داسې کیږي:

"اے موزیګیه بلاګیه
نهٔ دې بلا خوري نهٔ دې جونه قبلوینه"[12]

"ببګا مې مړ په خوب لیدلې
لکه چې بیا دې موذي ډېر خوړلي دینه"[13]

"بورقه په سر کړې ترې راووځه
تا د دله په کور کښې څه لیدلي دینه"[14]

پښتون د ابتداء نه په ننګ او شرم پائي. او په یو حال کښې هم بې ننګي او بې غېرتي نهٔ خوښوي. او چې څوک په ټولنه کښې بې ننګي او بې پتي ترسره کوي نو په پښتنه ټولنه کښې ورته د پېغور خله بیرته کیږي. لکه چې پروفېسر ډاکټر اباسین یوسفزے لیکي:

" څوک چې د پښتونولۍ د قانون مخالف کار وکړي نو بیا
ئې ورته خلق وخت په وخت یادوي دغه پېغور دے وائي
چې دا د توري د ګذار نه هم سخت وي" [15]

پښتانهٔ نارینه او زنانه دواړه په یو شان ننګ خفه کیږي او په خپل ننګ سر ورکوي. تر دې چې بې ننګه فرد ته هم د قدر او عزت په نظر نهٔ شي کتلے. لکه چې د پښتو یوه ټپه ده:

"بې ننګه یاره خدا ے دې واخله

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

خلاصه دي نۀ کړم د موذي له پېغورونو"[۱۶]

د دې نه علاوه که چرته يو پښتون زلمے په هر ډګر پېش شوے دے نو پښتنې جونې ورته تل په ننګ د پاتې کېدو او د ننګ د خيال ساتلو پوره وينا کړې ده۔ د دې نه مونږ ته دا ثابتيږي چې بې ننګي يو ناوړه، منفي او سلبي قدر دے۔ دغه ټپې د بې ننګۍ د غندنې څرک راکوي چې:

"بې ننګي مۀ کوه جانانه
په بې ننګۍ جنګونه چا ګټلي دينه"[۱۷]

"بې ننګي تا وکړه جانانه
د جينکو پېغور دې ماته پرېښودونه"[۱۸]

څۀ ډول چې په پښتنه ټولنه کښې بې ننګي او بې ننګه تن نۀ شي قبلولے کېدے هم دغه شان حال د بې پتۍ او بې غيرتۍ وي۔ بې پتي او بې غيرتي هم د پښتونولۍ په نزد ناوړه کردارونه دي۔ ځکه خو وائي کنه چې:

"پت ګر په سرو وينو کښې خوښ يم
تل په بې پت د ټول جهان وي تهمتونه"[۱۹]

"پښتون غيرت د پښتو غواړي
کار د پښتو کړه بې غيرت مۀ شې مئينه"[۲۰]

بې ننګي ، بې پتي او بې غيرتي درې واړه د پښتنو اصلي تشخص او د پښتونولۍ اصلي ډهانچې ته زيان او نقصان رسوي۔

په دې خبره د ټولو انسانانو سر خلاص دے، چې نفاق يا بې اتفاقي يو ډېر ناوړه عمل دے۔ د دې سره که يو خوا اخوت او رواداري ته ټهېس رسي نو بل پله د انساني مزاج سره ښائي هم نۀ۔ بې اتفاقي انسانان ، ډلې،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39


ټپلې او ټپې کمزورې کوي. او د دښمن د بر کېدو سوب جوړېږي. په پښتو ټپه کښې د نفاق غندنه داسې شوې ده:

"پښتانهٔ واړه سره يو دي
ورک دې نفاق شي چې به دوئ جدا کوينه"[۲۱]

پښتنو د خپل ژوند د معيار د لوړولو دپاره عموماً زيات مثبت اقدار خپل کړي دي. او ډېر داسې اړخونه شته چې په پښتونولۍ او اسلام کښې يو شان دي. بې ادبي په اسلامي لحاظ سره هم د غندنې وړ عمل دے. او په پښتونولۍ او عام ژوند کښې هم ښهٔ نهٔ شي منلے. د بې ادبۍ په ځاے بيا "ادب" او احترام ايجابي توکي دي. د بې ادبۍ تذکره په دې ټپو کښې شوې ده:

"بې ادبي زما نه اوشوه
په امرئ مې د يار مخ ته وکاتنه"[۲۲]
"بې ادبي زما نه اوشوه
په خطايۍ مې د يار مخ ته وکاتنه"[۲۳]

څنګه چې په پښتو ټپو کښې د سلبي اقدارو تذکره او بيا بيا يادؤنه شوې ده، هم دغه شان ئې په غېږه کښې ايجابي اقدار ځاے دي. ايجابي اقدار يو ډېر بنيادي کردار لوبوي او د انسان او انساني ټولنې په ښهٔ راځي. هسې خو د ايجابي اقدارو بريدونه ډېر پراخه دي، خو په دغه اقدارو کښې يو توکے د ښهٔ کارونو ستائنه هم ده. پښتون نهٔ يواځې په خپله توريالے دے، او د خپلو مړانو په تذکرو پائي بلکې د نورو خلقو په دغه کردار هم خوشحالېږي. د ستائنې سره د هڅه کوونکي يا مبارزه کوونکي حوصله نوره زياتېږي، هم په دې وجه ئې مونږ په ايجابي اقدارو کښې ذکر کولے شو. لکه د مثال په توګه دغه يوه ټپه چې:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39
ماخذ تحقیقی مجلہ

"احمده خدا ے دې جنتي کړه
تر هندوستانه پورې تا کړي جنګونه"[۲۴]

مېړانه یا مړانه د پښتون یاد صفت او د پښتونولۍ مشهور قدر دے۔ پښتون چې چرته وي نو تل به د مېړانې مظاهره کوي او د نورو خلقو دغه وصف به هم خوښوي۔ مېړانه وصف نۀ یواځې پښتانۀ نارینه خوښوي بلکې پښتنې زنانه ئې هم خوښوي۔ لکه چې دا ټپه ده:

"اشنا مې جنګ کښې سر ورکړے
ځکه همزولو کښې سر لوړې ناسته یمه"[۲۵]

که یو پله مېړانه د پښتون ښۀ وصف او د پښتونولۍ ښۀ قدر دے نو ورسره ئې خپل افادیت او ارزښت هم شته۔ د مېړانتوب دپاره د زړۀ ور توب ضرورت وي۔ ځکه خو وائي:

"برے به مومې زړۀ دې کلک کړه
په بې زړۀ توب باندې برے نشته مئینه"[۲۶]

انسان په ژوند کښې عموماً د دوه قسمه تصوراتو سره مخ کیږي چې یو ته قنوطیت او بل ته رجائیت وائي۔ د رجائیت نه مراد امېد ساتل وي۔ انسان په امېد پائي او امېد یو ډول انسان له سکون ورکوي۔ او انسان ته دا خیال راولي چې په بدو حالاتو پسې یو روڼ سحر هم راتلونکے شته۔ لغت "القاموس الجدید" د رجائیت معنيٰ امید او تمنا کړې ده۔[۲۷] لغت "بیان اللسان" هم رجائیت په دغه معنو کښې ښودلے دے۔ [۲۸]۔ د رجائیت لفظ دپاره په انګرېزۍ ژبه کښې (optimism) تورے پکارولے شي، په نورو لغتونه کښې هم د خوشبینۍ او امید په معنو سره بللے شوے دے۔ انګلش اکسفورډ ډکشنري د (optimism) معنيٰ داسې ښودلې ده۔

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39



hope"امید

Hopefulness-　　پُر امېد کېدل"[۲۹]

د رجائیت تصور په تحریري ادب کښې هم د ابتداء نه تر دې دمه په برجته ډول موجود دے۔ لکه د مثال دپاره د قلندر مومند دا شعر چې:

" په دې توره درنه شپه کښې ما
چـــراغ د وینـــو بـــل کـــړو
د امېد په رڼو ستورو زما ذهن
افلاکـــــــــــــــــــي دے"[۳۰]

او د تحریري ادب نه پس که مونږه د اولسي شاعرۍ په لور نظر وکړو نو په اولسي ادب کښې هم د دغه ایجابي قدر په حقله نمونې په نظر راځي۔ لکه د مثال دپاره دا ټپې چې:

برے به راوړي که خدا ے کاندي
زلمي د ننګ جامې په تن مېدان ته ځینه"[۳۱]
"بیا به سپرلے په وطن راشي
بلبله مۀ ژاړه چې ژمے مخے ځینه"[۳۲]

انسان چې په کومه خطه کښې پېدا شي، فطري طور په دغه خطه او خاوره مئین وي۔ او بیا د دغه مینې له امله د خپلې خطې یعنې وطن خیال د زړۀ نه ساتي۔ د وطن مینه هم د ایجابي اقدارو نه یو ښۀ قدر دے۔ دغه تصور هم په ادب کښې د ابتداء نه موجود دے او د تحریري ادب نه پس ئې په اولسي ادب کښې هم نخښې نخښانې جوتې برېښي۔ لکه د بېلګې په توګه دغه یوه ټپه:

"بې تورو هیڅ شے مزه نۀ کا

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

بخت د هغو دے چې وطن په تورو خورينه"[۳۳]

د انسان دپاره چې کوم ښيزونه ډېر بنيادي دي په دغه ښيزونو کښې ازادي هم شامل ده۔ انسان چې چرته ژوند کوي نو د دهٔ دپاره ازادي لازمي او ضروري وي۔ چې ازادي نهٔ وي نو انسان د خپلو خيالاتو او احساساتو مظاهره په ښهٔ شان سره نهٔ شي کولے۔ د ايجابي اقدارو نه يو ښهٔ قدر ازادي هم دے۔ د ازادۍ تصور د دغه ټپې نه په ډاګه دے چې:

"ببرغ زما په قبر هسک کړئ
په شهادت د ازادۍ جنت له ځمه"[۳۴]

د پښتو ټپې موضوعي بريدونه ډېر پراخه او وسيع دي۔ په موضوعي لحاظ سره ئې د ژوند ډېر اړخونه احاطه کړي دي۔ د نورو ډېرو موضوعاتو نه علاوه په کښې د سلبي او ايجابي اقدارو ونډه هم ډېره ده۔ چې په دې ليکنه کښې ئې ما لنډه شان جائزه اخستې ده۔

حوالې

۱سلمیٰ شاهين، ډاکټر، دَ پښتو ټپې سماجي او ثقافتي اثر، جدون پريس پېښور، ۱۹۸۸-۸۹، مخونه ۲۰-۲۱
۲همدغه اثر، مخ ۲۲همدغه ثر، مخ ۲۳
۳ زغم، احمد شاه، فولکلور او فولکلوري ادبيات، افغانستان ملي تحريک فرهنګي خانګه، ۲۰۱۵ء، مخ ۷۸
۴ جهان عالم، ډاکټر، پښتو ادب په يو نظر کښې، ګران خپرندويه ټولنه سوات، ۲۰۱۸ء، مخ ۱۲۰
۵خټک، اقبال نسيم، ډاکټر، خوشحال او جماليات، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۶ء، مخ ۴۰۱
۶سلمي شاهين، روهي سندرې (دوېم جلد)، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۱۹۸۴ء، مخ ۴۱

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

ماخذ تحقیقی مجلہ

۷هم دغه اثر، مخ ۵۵

۸هم دغه اثر، مخ

۹ هم دغه اثر، مخ ۴۴

۱۰هم دغه اثر، مخ ۴۹

۱۱هم دغه اثر، مخ ۵۰

۱۲هم دغه اثر، مخ ۵۳

۱۳هم دغه اثر، مخ ۶۳

۱۴هم دغه اثر، مخ ۶۰

۱۵اباسین یوسفزے، ډاکټر، پښتون حمزهٰ، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹۸ھ ش، مخ ۱۵۰

۱۶سلمي شاهین، روهي سندرې (دوہم جلد)، مخ ۶۸

۱۷هم دغه اثر، مخ ۶۸

۱۸هم دغه اثر، مخ۶۸

۱۹هم دغه اثر، مخ ۷۰

۲۰هم دغه اثر، مخ ۷۳

۲۱هم دغه اثر، مخ ۷۲

۲۲ هم دغه اثر، مخ ۶۲

۲۳ هم دغه اثر، مخ ۶۲

۲۴هم دغه اثر، مخ ۴۱

۲۵هم دغه اثر، مخ ۴۵

۲۶هم دغه اثر، مخ ۵۸

۲۷مولانا وحید الزمان قاسمي کیرانوي، القاموس الجدید، اداره اسلامیات لاهور، ۱۹۹۰ء، ص ۳۲۹

۲۸ قاضي زین العابدین سجاد منیر ٹھي، بیاللتسان، سن ندارت، ص ۳۰۸

29 www.englisg-Oxford-Dictionary.com,Difinition-of-optimism,5,11,2022

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-39

**۳۰**قلندر مومند ، سباوون، قلندر مومند ریسرچ سیل پیښور، ۲۰۱۹ء، مخ ۱۳۷

**۳۱**سلمي شاهين، روهي سندري (دوېم جلد)، مخ ۵۸

**۳۲**هم دغه اثر، مخ ۶۱

**۳۳**هم دغه اثر، مخ ۶۲

**۳۴**هم دغه اثر، مخ ۶۳